

# پښتو متلونه



Ketabton.com

۱۳۹۴

لیکنه اوټولوونه :
الحاج امین الدین «سعیدی – سعید افغانی »
د افغان استراتیژیکو څیړنیز مرکز او
د حق د لاری کلتوری ټولنی مدیر مسؤل – جرمني

www.masjed.se

دیزاین: الحاج سلیم عابد شمان سویدن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو متلونه

بسم الله الرحمن الرحیم

## څو لنډی خبری :

اولسی ادب د اولسونو معنوي پانګه ده ، دغه په زړه پوری فکری تولنیزه پانګه د زمانی په اوږدو کی دټولنیز ژوند په خوره لمن کی دسترو ملی ارزښتونو په توګه تومنه اخلی .
انسان ټولنیز موجود دی دټولنیز ژوندله لوړو او ژورو ارزښتونو ډک بهیر په ډاګه ښی چی که انسان ټولنه جوړه وی همدا انسانی ټولنه بیا پر خپل وار د انسان دشخصیت په جوړ ولو او لو رو ټاکلو کی ټاکلی بر خه لری . داولسی ادب په تلپاتی بڼ کی متلونه ځانګړی ځای لری . متلونه هغه لنډی خو له معنی ډکی جملی دی چی هر یوه یی ځانته وزن ، خوند او انسان جوړونکی او لوری ورکونکی ارزښت لری . متل دپیر یو ژوند تجروبو پر بنسټ دفکر او پوهی حکمت بڼه ده .دغه لنډ خو په معنی کی پاخه او رسیدلی احکام دزمانی په تیریدو کی نه یو اځی خپل خوند او رنګ نه بایلی او دژوند پانی ئی خزان نه وهی بلکی پخیدو سره سم لا پسی پخیږی ځکه داد خلکو له زړو رواتی هغه خبری دی چی مخامخ دخلکو زړونه لاره باسی . دی څو متلونه ته وګوری .
نا پوه دومره بر بل نه کوی لکه پر ځان .
پردی کټ تر نیمو شپو وی ،
په اور چی لو بیږی نو سوزیږی،
تر څو رښتیا راځی درواغو به کلی وران کړی وی .
پردی خواږه یا پور دی یا پیغور .
غره په غره نه ورځی خو سړی په سړی ورځی .
همداوس خپل په وینو او اوښکو لړلی هیواد خورورو هیوادوالوته وګوری همدا اوس ورته په سلګونونور پښتو متلونه هر یو دژوندانه لوی لوست دی . ولی دبد مرغی پدی تیاره کنده کی ولویدو ؟مګر همداوس نا پو هی ، دپردو په کټ ناستی ، دروغواو له لور سر لوبو او ځانځانی ورکی ته ونه لیږدولو ؟
ارواښاد بهاوالدین مجروح دځانځانی ښامار ( اژدهای خودی ) په منظوم اثر کی ددغه تور طاعون ریشی په فکری فلسفی بڼه را وڅیړلی دهغه وتلی اثر انسانی حکمی پایله همدا وه چی « غره په غره نه ورځی خو انسان په انسان ورځی » دغه انسانی حکم دپیری مال دی او پیری پیری په خپل قوت پایی ، نن چی افغان اولس دنړیوالو او سیمه ییزولو بو لاس تړلی قربانی شو اوخپلو نا پوهیو، ځانځانیو او ځان وژونو په ګوټ ګوټ کی خورور کړ ، او ستری فکری ، هنری اوادبی ملی پانګی یی یا د اور لمبو کی وسوی یا دبوسو په بیه د لیلام بازار ته وړاندی شوی ، پدی اورکی خزانی ډیره لړه برخه هم څوک راټولولی او خوندی ساتلی شی دابه ددیر لوی ارزښت لرونکی کار وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو متلونه

دپښتو متلونه راټولول او داولسی ادب دیوی درنی برخی په توګه دهغو
ژوندی ساتل له ملی فرهنګ او شتنمی سره د ژوری مینی درلودلو معنی لری .
داسمه ده چی پښتو متلونه پخوا څو څو ځله په لویو لویو ټوکونوکی راټول اوچاپ
شویدی خو نن زمونږ زیات شمیر وطنوال له داسی حالاتو سره مخامخ دی چی هغو
لویو مجموعو ته یی لاس نه رسی همدا کوچنی درسونه هم لوی ارزښتونه دی .
دامیر حبیب الله دامارت په دوره کی اروابناد غلام محی الدین افغان د
هغه وخت دملی خپرونی«سراج الا خبار» په ګڼو کی دلومړی ځل لپاره له پښتنی
فو لکلورڅخه مشهور متلونه را ټول او چاپ کړل دغه کار هغه وخت داولسی
ادب دمینه والو ډیره ژوره تنده ماته کړه .
باور لرم چی ددرانه ورور «امین الدین سعیدی » دپښتو متلونه دغه راټولو شوی
کوچنی خوله ستر ارزښت لکه مجموعه به لږ تر لږه دغربت او مهاجرت په
دنیا کی دډیر و مینه والو تنده ماته او دښتنو اولسی ادب دمتلونو ستر بڼ
دغه ښکلی څانګه به دډیرو افغانی مهاجرو کورنیو دکورونو زینت شی .
دافغانستان دټولو ورونو اولو سونو دملی فرهنګ او دهیواد دادبی او هنری شتمنیو
دخوندی ساتلو او ودی په هیله .

شاه محمد« حصین »
کلن – جرمنی ۱۹۹۶ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو متلونه

اول سلام پسی کلام .
اول ځان پسی جهان.
امانت ځمکه هم نه خیانتوي.
انسان تر کاڼی کلک تر ګل نازک دي .
اوبه په ډانګ نه بیلیږی.
اوبه چی تر سره شی څه یوه نیزه څهٔ دوه نیزه .
اوبه له سره خړی دی .
اوبه په تیری شی کاڼی پاتی کیږی .
اورته خپل او پردی یودی.
اوسپنه پر اوسپنه ماتیږی.
اوسپنه چی څومره ټکول کیږی هومره کلکیږی.
اوښ په بډه نه وهل کیږی.
اوښ ته ویل غاړه دي کږه ده ویل کوم ځای می سم دی .
اول زده کړه بیا کوژده کړه .
انتظار له وژلو زیات دی.
آسمان چی څومره غریږی هومره نه وریږی.
اور ته راغلي دکور میرمن شوی !
اورته چی نږدی کیږی خامخا سوزیږ ی.
اصیل ته اشارت کم اصل ته کوتک .
آزمویلی سړبنه آزمویی .
آسونه ئی نعلول چنګښو هم پښی پورته ونیوی .
اوبه خړی ماهی نسی .
اختر پټ میره ندی .
ابی مړه تپه شکیدلی.
باد چی پاسنی وی باران یی ګړندی وی .
مار چی هر څومره خوار شی بیا هم څنګښی نه خوری .
ببننه په لک حساب په کلک .
بد بوتی بلا نه وهی .
بد به دی په زړه لرم سلام به دی خوله .
بد تربور په بده ورځ پکار یږی.
بی ډوله مه ګډیږه .
بلاوه وه خو برکت ئی نه و .
پی ګودره مه ګډیږه .
بل ته چی ګوته نیسی ٗ ځانته دری کوتی نیول کیږی .
بی عقل دومره پر بل نه کوی لکه په ځان .
بیکاری هسی بلا ده هم ددین هم ددنیا ده .
بد زوي نه زوی .
بیره دشیطان کار دی.
بد بوټی بلا نه وهی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوه بېړ یو پښی مه ږده .
پوره ! ورک دی کړل دوه کوره .
پر پچه وخوت کشمیر یی ولید .
پر دی خواړه یا پور دی یا پیغور .
پردی کټ تر نیمو شپو دی .
پر ښو تلوار او پر بدی وتاءمل .
پړ می که مړ می که .
پښی هلته ځی چی زړه ځی .
پلار ګټلی زوی ته آسانه .
پور چي ځندینی شی خوړنی شی.
پر پردی کور سل میلمانه هیڅ دي .
پخپله خر نه لری دبل به آس خاندی .
په ډیرو ړوندو کی یو سترګی پا چا وی .
په شرم هغه شر میږی چی پری پو هیږی .
په درنو دروند په سپکو سپک .
په یو څپیړه دوه مخونه خوږ یږی .
په یو ګل نه پسرلی کیږی .
په یوه موزه کی دوی پښی نا ځایږی .
پشی خو به له اوړو جوړه کړو خو میو به څوک وکړی .
په کور کی کلی نشی .
پوردی وی په ورور دی وی .
تر پردی ګلالی زوی خپله بدرنګه لور ښه ده .
تر پراته زمری ګرځنده ګیدړه ښه ده .
تر څو چی ربښتیا راځی درواغو به کلی وران کړی وی .
توری به لا لا وهی مړی به عبد الله وهی .
تر تیاری برخی مه تیر یږی .
ترکانی دبیزو کار نه ده.
جامه چی دپور شی په ځان اور شی .
چی جنګ سوړشو میری تود شو .
چی نه دی وه سیالی مه کور کړه مه کالی .
خپل ګور هر چاته تنګ ښکاری .
خر به خند اه نه پو هیږی .
خپل عمل د لاری مل دی .
خپله خوله دی هم کلا ده هم بلا .
خپل ګریوان دبل لاس ته مه ورکوه .
څوک ځان غواړی څوک جهان .
څه چی په ګټوه کی وی په څمڅی کی را پورته کیږی .
څه ژرنده پڅه څه غنم لانده .
څو ګړی ږیره د چړی لا یقه ده .
چا به کلی نه پر یښود وی اس می دملک کره وتړی .
چاړه که دسرو ده هسی نه چی دځیګر دمنډو ده .
چی اختر تیر شی نکریزی په دیوال وتپه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو متلونه

چې باد نه وي ونې نه ښوري .
چې بد کوي بد به مومي .
چې بد گر ځي بد په پرځي .
چې غواړې په هغو واوړي .
چې او گره سړيږي ميلمانه ډيريږي.
چې زه او ته راځې نو څه دي دقاضي .
چې باغ پوخ شي باغون کوږشي .
چې سړي زړيږي حرص زياتيږي .
چې ډب نه وي ادب نه وي .
چې موړشي سوړ شي .
چې دښمن په پاتو مري په زهرويي مه وژنه .
ددرواغو مزل لنډ وي .
دا وړي نه شړي گيږي .
دلمدو ختو لړ اوبه حاجت وي .
ډيرې لاړې لږ ولاړې .
دزور او به په ځلې خيژي .
دميږ چې مرگ راشي وزرونه وکړي .
دملک مخې او د قاطر شاته مه زه .
دمرورو برخه تا لاوي .
دحجر ا غم به کورته راوړم دکور غم به چيرته يو سم .
دسوال مړی له ستونی نه تيريږي .
دو هندوانې په يو لاس کې نه نيول کيږي .
دړ انده له نيولو او د کاڼه له وهلو د خدې ساته .
دو يک هغه هم سره ورک .
دريا ب په لوټه نه خړيږي .
دزرو قدر په زرگر وي .
دزړه زړه ته لار وي .
دزمر کور بې هډو کو نه وي .
د زورورو وهل او د کمزوری کنځل .
دسپو له خوارې گيډړان پر بامو لوبې کوي .
دسوال په اوبو ژرنده نه گرځي .
دښار دروازې تړل کيږي دخلکو خولې نه .
دظلم عمر لنډ وي .
د غريب غاښ په حلوا کې وځي .
دغريب ملا په آذان څو ک روژه نا ماتوی .
دغنمو له برکته اغزي هم او به کيږي .
دکبر کاسه نسکوره ده .
د گو نگې ځوی ژبه خپله مور ښه يو هيږي .
دگيډړ تر نازه د زمرې داړل ښه دې .
د لو گرې لو ته زړه نه کيږي لور په لو ته تيروی .
دتولو نيمه، نيمه د انا شوه يو نيمه .
دنيا ء په اميد خوړله کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو متلونه

دوړي سترګی په دستر خوان کی وی .
دیوال نم زړوی خو انسان غم زړوی .
دیوی سپړی لپاره ټول پو ستین مه سوزه .
دراغجن د رواغ وایی او ریښتنی یی قیاس کوی .
دفقیر چی چیرته ښه هلته شپه .
دمچ جنګ به د پک په سر معلوم شی .
دغه ګز دغه میدان .
دمیره یا ترب دی یا خرب .
دریاب به لو ښو نه وچیږی .
دخوارانو دیګ په صبر پخیږی .
دصبر خواږه خواږه وی .
دقبر خاوری په قبر تمامیږی .
دمړی څخه شیطان بیزار دی .
درواغ د ایمان زوال دی .
دښار وو څه له نر خه نه .
دوست ته حال وایه دښمن ته لاپی کوه .
دوست به دي وژړوی دښمن به دی وخندوی .
ډ بره دخوارو په سر ولویږی .
ډمی نڅا نه شوه کولای ویل څمکه کږه ده .
ډم چی ډول وهی زور به یی لری .
رښتیا ویل تر خه دی .
رحم په لیوو ظلم په پسو .
ژرنده که د پلار ده هم په وار ده .
روغ صورت نیمه پاچاهی ده .
مګر زه وایم چی روغ صورت جوړه پاچاهی ده .
څوک چی روغ صورت ولری هر ورځ یی اختر دی .
مګرزه وایم څوک چی روغ صورت ولرںورځ یی اخترشپه یی برات دی .
زه ګورم وتاته ته ګوری وماته کار شو ترمیخ پاته .
زهر به زهرو وزی .
ړانده یو ځل امسا ورکوی .
سر که لا اړ شی عادت نه ځی .
سرکه غټ هم وی پټکی غواړی .
سترګی له ستر ګو شر میږی .
سل دی ومره یو دی مه مره .
سپین والی د زړه ښه دی نه دویښتو .
مګر زه وایم سپین والی دویښتو ښه دی نه دسترګو .
سپی ډیر دځان لپاره غاپی لږ دکور دپاره .
سر خریلی ښه ده نه میره شړلی .
ښه کوه له پاچا مه ویر یږه .
شرم لکی نه لری .
مګر زه وایم که چیری شرم لکی ولری نو اندازه به یی ګرانه وی .
عقل له کم عقلو زده کیږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقل لعل گوهر دی نه په زور دی نه په زر دی .
غم له غمه نه شر میږی .
غلبیل کوزی ته ویل چی سوری یی .
غر که لوړ دی به سر یی لار ده .
غله ته هر کانی سړی ښکاری .
غل په غره کی نه ځایږی .
غله ته وایی غلا ه کوه دکور څیښتن ته وایی کور سا ته .
غل غل پیژنی او مل مل .
غوښی خانانو وخوړی پر هډوکویی سپی جنګ کوی .
غوښی د هر چا خوښی دی خو پشو ایمان پری راوړی .
غر به غره نه ورځی خو سړی په سړی ورځی .
فیل که هر څو مره تږی شی په نس کی ئی یو زنګون اوبه وی .
که ښه یم له یارانو سره یم .
کیله ،کیله دخدای په هیله .
کم عقل اول ننک کوی بیا جنګ کوی .
کار چی بی استاده وی؛ خود به بی بنیاد وی .
که او به زور لری ځمکه سور لر ی .
که مشر مشر توب غواړی کشر هم ددنیا دود غواړی .
کوڼ دوه واره خاندی .
کار اسان دی خو پیل یی ګران دی .
کوټ کوټ دلته کوی خو هګی هلته اچوی .
کور کی دی جواری نشته له دماغه دی دپلو بوی راځی .
کار ګر کور مړوی لټ مور ژړوی .
کبر جن دخدای دښمن دی .
که هر څوک هو ښیار یی نادان پو ښته .
که نړی ودانه ده په مړی قیامت دی .
که بوډی دبل ده نس خو دی خپل دی .
که سړی غرونه دی ښځی یی اړمونه دی .
کارغه د زرکی رفتار کاوه خپل یی هیر شو .
کوږ بار تر مزله نه رسی .
کونډه د زوی په طعمه له میړه ووته .
کلال یی په کودی کی خوری .
که شپه تیاره ده منی په شمار دی .
ګوره ، ګوره یادوه خوله به دی خوږه شی .
کید ړی ته خپل پوست بلا دی .
ګاومیښه دګل په بوی څه پو هیږی .
ګټی تر ګټو لاندی دی .
ګنجی که داکتر وای نو لومړی به ئی دخپل سر علاج کړی وای .
له شنه آسمانه وریدل نه کیږی .
له پور وړی بل خوار نشته .
له خوشی غړیدو پټه خوله ښه ده .
له پښی تښته نشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لو ځ له ابو نه ډاریږی .
لیوه هغه میږه وړی چی له رمی جلا وی .
لو په مړی ستونی شکوی .
لږ وخوره تل وخوره .
له یوه لاسه تک نه خیږی .
له ښاره وو ځه خو له نر خه مه وځه .
لنډه ژبه هر ی خواته گرځی .
مه ځه په هغه لار چی نه دی مور ځی او نه پلار .
مرگ حق دی گور او کفن شک دی .
مرگ نه په واړه دی نه په زاړه .
مرگ د ډیرو پرده ده .
مساپری بده بلا ده .
او زه وایم بی وطنی ستره بلا ده .
ملا ځان هیر کا او بل ته مسلی کا .
ماما چی جیب ته لاس کوی د خوری طعمه ورته وی .
مرغه دانه وینی لومه نه وینی .
موړ د وږی له حاله څه خبر دی .
مه کوه په چا چی وبه شی په تا .
مار د ځان له ډاره خولی اچوی .
مړی نه خاندی که وخاندی کفن څیر وی .
مور که لیو گی هم شی خپل ځوی نه خوری .
مه داسی خوږ شه چی څوک دی وخوری .
مه داسی تریخ شه چی ودی غورځوی .
ماهی چی نیسی تر لکی یی نیسه .
مار چیچلی له پری ډاریږی .
میږ ته چی خدای په قهر شی نو وزرونه ورکوی .
میا که ربښتیا میا وی خپلی وزی به میږی کړی وای .
مخ یی پټ کړه رنگ ئی ورک کړه .
میلمه وی دڅو شپو نه چی پایی تر کلو .
نرمه غاړه توره هم نه غو ځوی .
نوم دلنگر دی کور دی ډگر .
ورک شه هغه ورور چی له دماړنو اخلی پور .
وږکی خوله لویی خبری .
وزه له لیوه نه تښتیده د قصاب کره ننوته .
وروری به کوو حساب تر مینځ .
وزه چی څملی خپل ځای پاکوی .
وږی پیشو د زمری سره چنگیږی .
وږی ته چا ویل څلو رڅلور څو کیږی ویل ئی اته ډوډی .
واده یم خو خبره نه یم چی په چا .
وزه چی په بام وخیږی نو لیوه ته ښکنځلی کوی .
وچی خاوری په دیوال نه نښلی .
ونی چی میوه نیسی ډبری په خوری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو متلونه

هر څه چی خام وی پخیږی انسان چی خام شو نه پخیږی .
هیڅوک نه وایی چی زما شړومبی تروی دی .
ښه وکړه په ابو کی یی واچوه .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**